# لیونی بلبل

ښاغلی محمد رسول «پښتون»

ثه طوفان دی په هوا کښې  یا ثه شور دی په دنیا کښې
لیونی اوبه بهیږی  لیونتوب دی په فضا کښې
که چمن که طراوت دی  یا سور ګل، یا ئې زینت دی
ټول اسباب د لیونتوب دی  که په ننوی که په بیا کښې

* * *

ثوك دعوه کړی چه هښیار یم  ثوك محنت کړی چه نادار یم
ځینی فخر په خاوند کړی  ځینی خوښ وی چه بادار یم
ثوك لا وخیجی آسمان ته  ګوری کښته دی جهان ته
ثوك د کښی نه ورته ګوری  ارمانجن یم خو ناچار یم

* * *

ثوك را لویږی ثوك ور لویږی  مطلب هیڅ نه معلومیږی
د چمنه خبر واخله  کله ګل کله رژیږی
که د غنچې حقیقت وی  نامعلومه ئې علت وی
نو به ثه وایم چه ثه کړم  لیونی به پری نازیږی

* * *

نه مین نه مینتوب شته  نه ښایست نه ښکلیتوب شته
نه علت د خاصې مینې  لیونی او لیونتوب شته
نه وزمه شته د کاکلو  نه ثه شور شته د بلبلو
نه د مستی په جبین کښې  شینکی خال د پیغلتوب شته

* * *

وارخطا مه شه بلبله  مه کړه شور غوغا تر کله
وفادار پر دنیا نشته  نه ګله مه کړه د ګله
بیهوده ثله ژړا کړی  د خپل ځان سره جفا کړی
لیونتوب ګرندیتوب دی  د چمن په لوری ځغله